مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: احمدالدين نورستانی ۲۰۲۳/۰۷/۱۵

# پشه خانه
## لنډه کیسه

زه چې به د زړه، سستی، عقل، غصې او داسې نورو وګړو سره په کې ویده کیدم د هغې پشه خانې نه د باران څاڅکو د لمر وړانګو او داسې نورو کسانو مکمل د ماشو ضد خاصیت له منځه وړی.

اوس هغسې پشه خانه نوې او ښکلې نه ده بې له ویرې پرې ماشې کینې بیرته ژوندي پاڅي او بې له کوم سر خوږي روان شي.

یوه شپه پشه خانه کې ویده اوم، تر غوږ مې د ماشي بینګ شو، نه پوهیږم په کومه لاره به را ننوتی وو،زړه مې ویلې:
_ورپاڅیږه، مړ یې کا، تر څو په ارامه خوب وکړی.
سستی ویله:

_پریږده یې، هسې خوب دی ولې پرې خرابه وی، کراری ویده شه.
ما د سستی ومنله، ویده شوم.

د وریځو د پردو له شا نه سپوږمۍ او ستورو څمکې ته پټ پټ را کتل، باد به کله کله په خپلو لاسونو پشه خانه رپوله، کیریږي(چرچرک) چغې وهلې، یو نیم وخت به تول کلی د سپو غاپا ونیوو.
پخه شپه وه په دروند خوب ویده اوم،په ښپه کې مې د ستنې( پیچکاري ) لګولو ورته د درد احساس وکړو؛ غصې چغې کړې:
_هله د درد ساحې ته ځېږه ورکا هله نو ژر کوه
سستي مې غور ته نږدې راغله او غلې ویلې:
_ویده شه څه له دی خوب خرابه وې...

د سستی د خبرو په جریان کې د ولې(اوږه)شا طرف ته هم د درد څړیکه مغزو کشف کړه؛غصې نو نور له ډیره قاره سمه خوله لګوله مجبور یې کړم لاس مې پورته کړو،خرپ پر ښپه مې وار وکړو،کیناستم چپ ولې مې په ښې لاس وګرو،سستی به مې په سترګو لاسونه را کیښودل او په ارامه به یې راته وایل:
_ویده شه، ویده شه...
ځان مې راته ویلې:

_هسې نه هم پاڅیدلي یې پشه خانې ته را ننوتي ماشي مړه کا چې په ارامه خوب وکړی.
د ځان مې و منله، د تیارې توره رڼا خوره وه،سم څه نه ښکاره کیده، لاسي څراغ مې بل کړ،پر پښه مې کیښودو، دواړه لاسونه مې سره و جنګول، لاس ته مې وکتل، ماشي له وینو سره سریخ و، لس دولس کارته مې له ورغو ټقا ویستله،لاسونه مې پاک کړه؛ پشه خانه مې تر توشک لاندې ښه کلکه کړه، څراغ مې ګل کړو،سر مې په بالخت کیښودو .

عقل مې سر ته کیناستو په وینتو کې راته نرمې نرمې ګوتې وهلې او خبرو ته یې خوله وازه کړه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

_ګوره! یو وخت دا ویجاړ افغانستان هوم کټ مټ لکه ستا پشه خانه، له هر څه نه پوره وو چا ورته پورته کتلې نشو په سرحد بې اجازې پردي مرغه وزر هم نه رپوو، وختونه تیر شول، سرونه خاورې شو وطن هر څه له لاسه ورکړل هر پردی په کې بې له ویرې هسکه غړۍ ګرځي، لکه تا غوندې چې پشه خانه دی له ماشو پاکه کړه، داسې یو سم کس دی وطن پیدا نکړو چې خاینان وځپي،جاسوسانو له مړې کړي په حالاتو حاکم شي...

خراري مې پورته شو، عقل مې مخ ته وکتل سترګې مې سره بندې وې دروند خوب وړی اومه هوا یو طرف ته د وریځو پردې کش کړې وې، ستورو رڼه رڼه کتل سپوږمۍ د ځمکې په تناب د رڼا جامې غوړولی وی،باد ورو ورو پشه خانه رپوله.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ